Folk–
bildnings
–rådet

# د لویانو په لیسو یا تعلیمي مرکزونو کې ستاسو حقوق

آیا تاسو د لویانو په لیسه کې لوست کوئ؟ آیا تاسو له خپل وضعیت څخه ناراض یاست یا تاسو د ښوونځي سره په شخړه کې یاست؟ په دغه حالت کې کولی شئ چې د زده کونکو د لوړو زده کړو شوراګانو ته مراجعه وکړئ. موږ کولی شو ملاتړ مو وکړو ، مشوره درکړو او ستاسو د حقونو په اړه خبر درکړو.

## د لویانو په لیسو کې زده کړې د ځینو عامو قوانینو پر بنسټ وړیا دي

د لویانو لیسه د زده کړې یوه بیلګه ده چې د پراخې موخې په واسطه اداره کیږي او خو عام قواعد لري. دولت ژمنه کوي چې د لویانو د زده کړو د لیسو فعالیتونه به د ښوونې د ملي شورا لخوا تنظیمیږي. د شرایطو پر بنسټ د مرستو لپاره قواعد شتون لري مګر د ښوونې او روزنې شورا د تعلیمي مرکزونو د معاینې او ارزونې دنده نلري.

د لویانو په لیسه کې د عام ښوونځیو قوانین نه تطبیق کیږي او د لویانو ښوونځي لپاره د دولت نصاب شتون نلري. هغه کسان چې په دغو ښوونځیو کې زده کړې کوي ددوي حالت او حقونو په اړه پریکړه د ښوونځي په علمي بورډ پورې اړه لري.

د لویانو په ښوونځیو کې د ټولو زده کوونکو د زده کړو د قانوني پیاوړتیا لپاره د پوهنتون د محصلانو شوراګانې ، FSR شتون لري.

## آیا ناخوښه یاست؟ په شخړه کې یاست؟ داسې باید وکړئ!

آیا تاسو له خپل وضعیت څخه ناراض یاست یا تاسو د ښوونځي سره په شخړه کې یاست؟ لومړنې دنده مو دا ده چې باید د ښوونځي مدیر ته مراجعه وکړئ. که چیرې له مدیر سره د موضوع له څیړلو وروسته بیا هم قناعت نلرې نو د موضوع په اړه د ښوونځي بورډ ته خبر ورکړئ. کله چې دوی په دې اړه پریکړه وکړه او تاسو لا تراوسه هم موافق نه وی ، کولی شئ د خپلې قضیې په اړه FSR ته راپور ورکړئ.

هغه پوښتنې چې له CSF څخه یې پوښتلی شئ بیلګې یې په لاندې ډول دي:

- ستاسو د کورس چارې د ښوونځي د ژمنو پر بنسټ پرمخ نه ځي.
- ښوونځي د اړینو لګښتونو په اړه ناسم معلومات ورکړي دي.
- د ګډون کوونکو اغیز او د زده کوونکو د حقوقو نشتوالی.
- د زده کړو د پایلو ارزول او د حاضرۍ نیمګړتیاوو په اړه د ښوونځي دنده.
- یو کورس لغو شوی او یا اضافه شوی.
- انضباطي تدابیر (د بیلګې په توګه ترل یا بندول او جلا کول)

دا ممکنه نه ده چې د زده کونکي ارزونه CSR او یا د ښوونځي څخه بهر کومې بلې مؤسسې ته راجع شي.

یوازې هغه کسان چې له ۱۵ ورځو څخه زیات کورس ته ځي ، کولای شي د پیښې په اړه خپل راپورCSF ته واستوي. غوښتنلیک باید له ښوونځي څخه د وتلو نه وروسته د یوه کال په بهیر کې CSF ته وسپارل شي او تر یوه کاله باید زیات وخت و نه نیسي.

**له خبرتیا وروسته څه پیښیږي ؟**

د لویانو د ښوونیز بورډ په ښوونځي کې د فعالیتونو مسؤولیت په غاړه لري او مشخصوي چې کوم قوانین باید پلي شي. له همدې امله د یوی ارزونې په پایله کې به FSR ، د لویانو د ښوونیز مرکز د شرایطو د نه پوره کولو په تړاو د خدمت موده پای ته ورسیږي.

FSR هیڅکله د ښوونځي هغه پریکړه چې سپارښتنه یې زمونږ له لوري شوی وي ، نه شي بدلولی ، تر دی دمه ډیري ښوونځیو ته د CSF د سپارښتنو د پلي کولو په اړه خبر ورکړل شوی دی.

ایا تاسو غواړئ په دې پوه شئ چې FSR په بیلا بیلو قضیو کې څرنګه بحث کوي. د لا ډیر مالوماتو لپاره دې ویب پاڼې ته ولاړ شئ. *www.folkbildningsradet.se/fsr*

**له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ:**

FSR مأمور: 10 48 412-08

د وګړو د زدکړو مشاورتی شمیره: 00 48 412-08

fsr@folkbildningsradet.se